**ليکلي وينا**
**لوريل اي ميلر**

**د کړکیچ نړیوالې ډلې د اسیا پروګرام رئیسه**

# د امریکا د متحده ایالاتو د ولسي جرګې د بهرنیو چارو کمېټې پر وړاندې استماعیه وینا

# "د افغانستان په اړه د ټرمپ د ادارې پالیسي"

**سپټمبر ۱۹، ۲۰۱۹م**

د کمېټې رئیس اینګل، لوړپوړي غړي مک کول او درنو غړو، سهار په خیر. ډېره مننه چې زه مو د افغانستان په اړه د ټرمپ د ادارې د پالیسۍ اړوند دغې مهمې استماعیه ناستې ته د وینا کولو له پاره راوبللم. له ما غوښتل شوي چې له طالبانو سره د سولې تړون کولو او د افغانستان د حکومت او طالبانو تر مینځ د پخلاینې د تسهیل په موخه د ټرمپ د ادارې هلې ځلې وارزوم. له ما څخه دا هم غوښتل شوي چې په افغانستان کې د سولې د راتلونکې او له طالبانو سره د تړون بالقوه خطرونه او ګټې په ګوته کړم.

پیل به پر هغو پالیسي انتخابونو له لنډې رڼا اچولو وکړم چې د افغانستان په اړه واقعاً له متحدو ایالتونو سره شته یا نه شته. بیا به دغې شخړې ته د خبرو اترو له لارې د هوارې موندلو په اړه د دغې ادارې له خوا غوره شوې تګلاره او د پایښت وړ سولې د رامینځ ته کولو له پلوه د دغې تګلارې پر وړاندې پراته احتمالات وارزوم. په پای کې به پر خپلې دغې سپارښتنې رڼا واچوم چې د خبرو اترو هغه روان بهیر چې تېره اونۍ د ولسمشر ټرمپ له لوري "مړ" اعلان شو، باید څومره چې ژر ممکن وي، هومره ژر راژوندی شي. د یاد بهیر له برکته د اتو میاشتو خبرو اترو په اوږدو کې د متحده ایالاتو او طالبانو د تړون مسوده چمتو شوې وه او د دواړو لوریو د مرکچیانو په وینا دې ته چمتو وه چې د ولسمشر ټرمپ له خوا له وروستۍ هوکړې وروسته لاسلیک شي.

### د افغانستان په اړه له متحدو ایالاتو سره کوم انتخابونه شته؟

متحده ایالات د افغانستان په اړه د پالېسۍ له پلوه درې بنسټیزې لارې لري:

**لومړی، متحده ایالات په نږدې وخت کې د ټولو امریکایي ځواکونو د ایستلو پلان جوړ او عملي کړي.** د ناټو نور ځواکونه به طبعاً په همدغې مودې کې وځي. د امریکا له پوځي شتون پرته به په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت پایښت له پوښتنې سره مخ وي، په ځانګړې توګه چې دغه سفارت د تخلیې له پاره چې یوازې د هوا له لارې ممکنه ده، پر پوځ متکي دی. د ترهګرۍ ضد هر ډول امریکایي عملیات به په دې صورت کې له افغانستان څخه بهر موقعیتونو یا د دغه هیواد د ننه نیابتي ځواکونو له لارې تر سره کیږي.

شخړه به د متحده ایالاتو له مستقیم دخالت پرته روانه وي. پرته له شکه به د متحده ایالاتو له وتلو وروسته یاده شخړه په زیات احتمال شدیده او لا ګډه وډه شي. سربېره پر دې، د دې قوي احتمال هم شته چې طالب-ضد سیاسي او امنیتي عناصر ووېشل شي، په ځانګړې توګه که د متحدو ایالاتو مالي ملاتړ او دیپلوماتیک موجودیت کم شي. د دغې ماتېدنې چټکتیا به په دې پورې اړه ولري

چې تر څه وخته به د کابل حکومت د بهرنیو مرستندویانو مرسته تر لاسه کوي او د هغو د وېشلو جوګه به وي. دغه حکومت اوس مهال د خپلو کارونو او په ځانګړې توګه د خپلو امنیتي ځواکونو له پاره پر دغو مرستو شدیداً متکي دی[1]. که طالب-ضد جبهه په ریښتیا ووېشل شي، ښخړه به هغې څو-اړخیزې کورنۍ جګړې ته په ورته کېدو شي چې د ۱۹۹۰مو کلونو له پیل څخه تر نیمایي پورې روانه وه او د طالبانو د را پورته کېدو لامل شوه.

که متحده ایالات دغه لاره غوره کړي، د دې اړتیا نه شته چې له طالبانو سره د تړون له پاره خبرې اترې وکړي، که څه هم ښایي متحده ایالات د دې له پاره یو توافق وغواړي چې د متحده ایالاتو د ځواکونو د وتلو له پاره د خوندي لارې په اړه ژمنه تر لاسه کړي. د طالبانو له لوري په دې اړه هر ډول ژمنه به چې دوی به له بهرنیو ترهګرو ډلو سره خپلې اړیکې شکوي یا به ور سره جنګیږي، لکه هغه ژمنه چې د راپورونو له مخې په هغه تړون کې شامله وه چې د ټرمپ اداري پرې د تېر کال په ترڅ کې خبرې اترې کولې، په داسې شرایطو کې د باور وړ نه وي چې د متحده ایالاتو پالیسي له افغانستان څخه په شکېدو بنا وي، که څه هم چې طالبان لږ تر لږه په افغانستان کې د اسلامي دولت له څانګې سره د مقابلې کولو له پاره له دې پرته خپل دلایل هم لري.

متحده ایالات کولی شي د وتلو په ترڅ کې د کابل له حکومت سره د خپل امنیتي شراکت په اړه خبرې وکړي او دغه اړیکه یوازې له تمویل او نور مادي ملاتړ پورې داسې محدوده کړي او دومره او په داسې طریقه یې وړاندې کړي چې په دغه هیواد کې نظامي شتون نه ایجابوي. خو که متحده ایالات پرېکړه وکړي چې له افغان حکومت سره د یوه داسې بین الافغاني سولې تړون په نه شتون کې خپل ملاتړ ته ادامه ورکړي چې په هغه کې حکومت، طالبان او د ځواک له پلوه نور اغېزناک اړخونه ونده ولري، په دې صورت کې به بیا متحده ایالات له طالبانو سره په غلیمانه درېځ کې واقع شي او په دې توګه به بیا طالبان هم دې ته چمتو نه وي چې د متحده ایالاتو د خوندي وتلو او له ترهګرۍ سره د مقابلې په اړه کومه ژمنه وکړي یا دغسې ژمنو ته متعهد پاتې شي. په بل عبارت، که وګڼو چې متحده ایالات لا هم له افغان حکومتي ځواکونو سره مرسته او ګډ کار کوي، په دغسې حالت کې به د متحده ایالاتو ځواکونه ممکن اړ شي چې د خپلو وتلو له پاره هم جنګ وکړي.

**دوهم، متحده ایالات د افغان حکومت تر څنګ له طالبانو سره د جګړې، د اسلامي دولت او نورو ترهګرو ډلو پر ضد عملیاتو تر سره کولو خپلې اوسنۍ تګلارې ته ادامه ورکړي او خپل ځواکونه په اوسنۍ کچې کې وساتي یا یې شمېر یو څه کم کړي.** د متحده ایالاتو چارواکو ویلي چې د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ مسوده تړون کې دا راغلي چې د متحده ایالاتو ځواکونه به د ۱۳۵ ورځو په موده کې له شا او خوا ۱۴۰۰۰ څخه شا او خوا ۸۵۰۰ ته را ټیټ کړل شي (یعنې هغې اندازې ته چې د ټرمپ د حکومت په پیل کې وو)؛ مګر د ځواکونو د نورې کمونې د منل شویو شرایطو یا مودې په اړه ښکاره څه نه دي ویل شي. دا په دې دلالت کوي چې د ټرمپ د ادارې د ننه حداقل یو څه کسان په دې اند دي چې دغه ۸۵۰۰ کسان د اوسني ماموریت د دوامدار ثابت حالت ساتلو له پاره کافي دي.

د اوسني مسیر ادامه، چې د دغې تګلارې ځانګړتیا ده، په دې معنی ده چې دغه ښخړه به همدغسې بې ګټندویه خونړي حالت کې روانه وي لکه دا اوس چې ده او کومه چې له تېرو څو کلونو راهیسې د طالبانو په ګټه تمامیږي. د لوړپوړو نظامیانو په ګډون د متحده ایالاتو چارواکو له اوږدې مودې راهیسې دغه ښخړه بې ګټونکي بللې او ویلي یې دي چې د هر لوري له پاره نظامي سوبه د نه منلو خبره ده[2]. د متحده ایالاتو د نظامي شتون ساتل به د بهرني اشغال په اړه د طالبانو د هغې ادعا پخلی وکړي چې د جنګیالیو

---

[1] د نړیوال بانک د معلوماتو له مخې "په افغانستان کې دولتي لګښت لوړ او په نه پایښودونکې کچې کې دی. بسپنې د ټولو لګښتونو ۷۵٪ جوړوي. ټول لګښتونه خوا او شا ۱۱ میلیارده ډالر دي، په داسې حال کې چې د دولت خپل عواید د ۲،۵ (دوه نیمو) میلیاردو ډالرو په شا او خوا کې دي." د دولتي بودجې د ننه او باندې ټولو لګښتونو تقریباً نیمایي یې امنیت ته ځانګړي شوي. *Afghanistan: Public Expenditure Update*, July 29, 2019, https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/afghanistan-public-expenditure-update.

[2] د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندانۍ د مشر کېدو د تائیدي استماعیې په ترڅ کې، جنرال کینیت مکیزي د افغانستان په اړه د امریکا د مشرانو جرګې د وسله والو پوځونو کمېټې ته وویل: "زه په دې باور یم چې نظامي عملیاتي وضعیت تر ډېره بریده بې ګټونکي حالت کې دی." سرچینه: Ellen Mitchell, "Afghanistan War at a Stalemate, Top General Tells Lawmakers," *The Hill*, December 4, 2018.
د لوی درستیز د مشترک ریاست غړي جنرال جوزف ډنفورډ ویلي چې داسې هېڅ "نظامي حل" نه شته چې په یوازې ځان د افغانستان جګړې ته د پای ټکی کېږدي. سرچینه: Jamie Crawford, "Top U.S. Military Officer Says Taliban Are 'Not Losing'," *CNN*, November 17, 2018, https://www.cnn.com/2018/11/17/politics/joseph-dunford-taliban-afghanistan/index.html.

د جلبولو او خپل جنګ ته د مشروعيت وربخښلو له پاره يې کاروي. په بل عبارت، د اوسني مسير ادامه به د اوسني حالت د ادامې په معنیٰ وي چې پای يې نه تر سترګو کيږي.

په ۲۰۱۸م کال کې د افغانستان جګړه په جګړې کې د مستقيماً وژل شويو تلفاتو له پلوه د نړۍ تر ټولو زياته مرګونې شخړه وه[3]. دا واقعيت، سره له دې چې انساني او نور مصرف نه دی پکې پام کې نيول شوی، ښيي چې افغانانو ته دغه جګړه په څومره لوړ قيمت تماميږي[4]. په دغو نورو مصارفو کې يو دا هم دی چې تر څو افغانستان په دغسې جګړه ايز حالت کې وي، تر هغه پورې به د پايدارې اقتصادي ودې جوګه نه وي[5] او د لوړو امنيتي لګښتونو په پار به يې پر پرمختيايي کارونو مصرف ټيټ وي. د دې تر څنګ، ان د متحده ايالاتو د مرستو له ادامې سره، سره د افغان امنيتي ځواکونو دا وړتيا چې په اوږده مهال کې خپلې وړتياوې او امکانات حفظ کړي، د ور اوښتل کېدونکو درندو تلفاتو او بشري تعويض د لوړې کچې له کبله شديداً ننګول کيږي[6].

**دريېم، متحده ايالات د خبرو اترو له لارې تر لاسه شوي جوړجاړي په وسيله دغې جګړې او په افغانستان کې د متحده ايالاتو نظامي شتون ته پای ولټوي.** له دوه کاله مقدماتي کار وروسته د ۲۰۱۱م کال په لومړيو کې متحده ايالاتو له هغه څه پرده پورته کړه چې د سولې د خبرو اترو د پيلولو يوه ناڅرګنده تګلاره ښکارېده؛ بيا د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزيرې هيلري کلنټن اعلان وکړ چې متحده ايالات "سياسي لور ته د دغې شخړې د بيولو په موخه جدي ډيپلوماتيکې هڅې پيلوي[7]." نږدې يوه لسيزه وړاندې دا جوته شوې وه چې د متحده ايالاتو او افغان ملګرو له پاره يې نظامي سوبه ممکنه نه ده. مګر سره له دې هم متحده ايالاتو تر ۲۰۱۹م کال پورې د افغانستان په اړه خپلې تګلارې کې د سياسي حل لټونې ته مرکزي ځای ور نه کړ او له هغې وروسته يې دا کار وکړ چې په ۲۰۱۷- ۲۰۱۸م کلونو کې د نظامي هڅو تشديد د شخړې په سير کې د مثبت بدلون په راوستلو کې پاتې راغی.

له پورتنيو دريو لارو څخه دا لاره يوازېنۍ لاره ده چې د دې وړتيا لري چې په افغانستان کې تاوتريخوالی کم کړي او د متحده ايالاتو پوځ د دې جوګه کړي چې په مناسبو شرايطو کې ووځي. ځکه چې په دې لارې کې د تاوتريخوالي کمونه نغښتې، او دا هغه لاره ده چې که بريالۍ شي، کولی شي په افغانستان کې د تېرو ۱۸ کلونو ټولنيزې او د اقتصادي ودې لاس ته راوړنې په ښه ډول وساتي.

مګر سره له دې هم برياليتوب تضمين نه دی. طالبان، کابل او تر يوه بريده نور ځواکمن افغان شخصيتونه په دې اړه مختلف نظر لري چې ايا د دوی شخړې ته سياسي حل را ايستل کېدی شي او که نه. د بهرنيو ملاتړو اغېز (ټول افغان لوري له بهرنيو حکومتونو سره اړيکې لري)، ان که فرض کړو چې ټول ملاتړي د هوارې له پاره کار کوي، ښايي د دغو نظرونو د تعميل له پاره کافي نه

---

3 Armed Conflict Location & Event Data Project, “ACLED 2018: The Year in Review,” https://www.acleddata.com/2019/01/11/acled-2018-the-year-in-review/. افغانستان د داسې هيواد کېدو پر لار روان دی چې په ۲۰۱۹م کال کې هم پکې د جګړې اړوند تلفات تر ټولو لوړ وي.
Uppsala Conflict Data Program, UCDP Bulletin, 2019, “Afghanistan in the First Half of 2019,” https://www.pcr.uu.se/digitalAssets/806/c_806526-l_1-k_afghanistan---ucdp-bulletin.pdf.

4 د ګالوپ اداري وروستی نظرپوښتنې مونډلي چې: "د مخکيني کال په څېر په ۲۰۱۸م کال کې بيا هم هېڅ افغان خپل اوسنی او راتلونکی حالت دومره مثبت نه دی ارزولی چې ښېرازه وبلل شي. په عين حال کې د هغو خلکو سلنه چې خپل حالت او ژوندی يې دومره ضعيف ارزولی چې ناورينې بلل کيږي، په بې سابقې توګه ۸۵٪ ته لوړه شوې. دا نه يوازې د افغانانو، بلکې د ټولې نړۍ له پاره نوی ريکارډ دی. سرچينه: Steve Crabtree, “Inside Afghanistan: Nearly Nine in 10 Afghans Are Suffering,” Gallup, September 16, 2019, https://news.gallup.com/poll/266825/inside-afghanistan-nearly-nine-afghans-suffering.aspx.

5 په ۲۰۱۸م کال کې د افغانستان د ناخالص ملي عائد وده ۱٪ (د تورم له پام کې نيولو وروسته ۰,۸٪) وه. د نفوس وده يې په ۲۰۱۸م کال کې ۲,۴٪ وه. سرچينه: World Bank, “Afghanistan Country Profile,” https://databank.worldbank.org/views/reports/reportwidget.aspx?Report_Name=CountryProfile&Id=b450fd57&tbar=y&dd=y&inf=n&zm=n&country=AFG.

6 د سږکال په جنورۍ کې، افغان ولسمشر اشرف غني وويل چې د ۲۰۱۴م کال په وروستيو کې چې دی قدرت ته ورسېد، له هغه وخته تر اوسه ۴۵۰۰۰ امنيتي ځواکونه وژل شوي. سرچينه: BBC News, 25 January 2019, https://www.bbc.com/news/world-asia-47005558. U.S. military officials have called these losses unsustainable. See, e.g., Idrees Ali, “Afghan Security Forces’ Deaths

7 د Asia Society په وړاندې د بهرنيو چارو وزيرې هيلري کلنټن وينا February 18, 2011, https://2009-2017.state.gov/secretary/20092013clinton/rm/2011/02/156815.htm.

وي. دې ته په کتلو به د دغې تګلارې برياليتوب ايجاب کړي چې متحده ايالات د خپل نظامي ايستون د مهال په اړه يو څه ترديد او شک ومني، که څه هم چې داخلي سياسي عوامل به ممکن د نامعلومې مودې موجوديت پر ضد ودريږي او که څه هم چې متحده ايالات کولی شي له طالبانو سره هوکړې ته له رسېدلو وروسته د خپلو څه ځواکونو په ايستلو پيل وکړي. سره له دې هم په افغانستان کې د متحده ايالاتو ښکېلتيا (نظامي شتون او مالي مرسته دواړه) د خبرو اترو د پر مخ وړنې له پلوه د متحده ايالاتو د قوت اساسي سرچينه ده. د يوې مناسبې مودې له پاره د متحده ايالاتو يو څه نظامي شتون، ان که کم شتون هم وي، کولی شي د بين الافغاني خبرو د برياليتوب احتمال زيات کړي. که چېرې متحده ايالات دې پايلې ته ورسيږي چې دغه خبرې اترې په قابل پيشبيني ډول نه بريالی کيږي، کولی شي د خپل دوامدار نظامي شتون د پايښت په اړه له سره فکر وکړي.

له دغه نامعلوم حالت سره، سره دا لاره پر لومړيو دوو لارو نه يوازې له دې کبله غوره ده چې د ګډوډۍ د کمښت سبب کيږي، بلکې له دې کبله هم چې د دغو نورو دوو لارو څخه د هېڅ يوې پر مخ هم دروازه نه بندوي. د خبرو اترو له پرمختګ او د پايلو په اړه يې له وضاحت سره، سره متحده ايالات بيا هم د تلو يا پاتې کېدو پرېکړه کولی شي.

*که په لنډه توګه ووايو، له دغو انتخابونو څخه هېڅ يو يې هم د متحده ايالاتو او افغان ملګرو له پاره نظامي بريا نه راوړي؛ په لومړيو دوو انتخابونو کې هېڅ يو يې هم افغان حکومت د دې جوګه کولی نه شي چې په معلومي ډول کې د طالبانو پر ضد جګړې کې پر ځان متکي شي؛ يوازې په دريم انتخاب کې ګډوډي کمېدی شي.*

### متحده ایالات ولې طالبانو، او یوازې طالبانو، سره خبرې کوي؟

ان هغو هم چې په اصولو کې د خبرو اترو له لارې هوارې ښه توب مني، ډېرو يې د ټرمپ پر ادارې له دې کبله نيوکه کړې چې ولې يې يوازې له طالبانو سره خبرې کړې، (د هغوی په اند يې) افغان حکومت له خبرو ګوښه ساتلی او په دې کې پاتې راغلی چې په وخت اوربند وکړي. دا تګلاره د متحده ايالاتو هغه ادعا بابيزه ګڼي چې له ډېر وخت راهيسې يې ويل چې د سولې بهير بايد "د افغانانو تر مشرۍ او د افغانانو تر ښېتنولۍ لاندې" وي. طبعاً، د دغې ادارې تګلاره هغو افغانانو ته هم ډېره اندېښمنوونکې ده چې د طالبانو مخالف دي او داسې احساسوي چې د دوی برخليک د هغو له ښکېلتيا پرته ټاکل کيږي چې د دوی د ګټو استازيتوب کوي او هغوی چې غواړي په ګډوډۍ کې چټک کمښت ووينې.

د دغې ادارې دا پرېکړه چې د متحده ايالاتو د نظامي وتنې د شرايطو او يو لړ نورو موضوعګانو په اړه د افغانانو د خپلمينځي سولې خبرو اترو نه وړاندې له طالبانو سره دوه اړخيزې خبرې وکړي، يقيناً طالبانو ته يو امتياز وو. طالبانو له ډېر وخت راهيسې پر دې ټينګار کاوو چې دوی يوازې هغه وخت د سولې بهير ته داخليږي چې لومړی له متحدو ايالاتو سره د خپلې تر ټولو زيات لومړيتوب لرونکې غوښتنې (د متحده ايالاتو وتنې) په اړه خبرې وکړي، او بيا له نورو افغانانو سره د افغانستان د راتلونکي حکومتولۍ د بنې په ګډون نورو مسائلو په اړه وغږيږي. دا کومه پټه خبره نه ده چې ولې طالبان په دومره سرتمبګۍ له دغه دريځ پورې نښتي وو: په دې توګه طالبان ښايي په خبرو اترو کې مخکې له مخکې سوبه تر لاسه کړي او بيا له حکومت او نورو افغانانو سره په همدغه وزن او په پام-وړ توګه زيات شوي مشروعيت له موقفه او خپلو لوړپوړو او ټيټ پوړو ته له دې ډاډ ورکولو وروسته خبرو اترو ته ننوځي چې دوی د خبرو په پر مېز ګټه کوي. طالبانو همداراز له ډېر وخت راهيسې مخکې له مخکې اوربند هم رد کړی ځکه چې دوی په دې اند دي چې د جګړې په ډګر کې د دوی اقدامات د دوی د ځواک نقطه او د خپلې ډلې د يو-موټي ساتلو وسيله ده.

طبعاً د طالبانو دغه ګټه کابل ته مساوي او معکوس زيان دی. د همدغه دليل له کبله متحده ايالاتو له ډېرو کلونو راهيسې د طالبانو له دغې غوښتنې سره مخالفت کاوو. د دغه مخالفت بيه د سولې د بهير نه موجوديت وو. څرنګه چې د طالبانو له خوا د نرمښت ښودلو کومه نخښه نه تر سترګو کېده او هغه لومړيتوب ته په کتلو چې د ټرمپ ادارې د ۲۰۱۸م کال له وروستيو راهيسې د خبرو اترو لارې خپلولو ته ورکړی وو، متحده ايالاتو نرمښت وښود. د دې ګټه دا شوه چې د لومړي ځل له پاره د خبرو اترو له لارې هوارې په لور د تګ د واقعي فُرصت کړکۍ پرانستل کيږي.

*که په څرګندو ټکو کې وويل شي، متحده ايالاتو د سولې د هغه ډول بهير د رامينځ ته کولو هڅه وکړه او پاتې پکې راغی چې د ټرمپ د ادارې د دغې تګلارې نقادان يې غواړي.* په هغې ډېرې مطلوبې تګلارې کې دا هم راځي چې افغان حکومت د بهير له

پیل څخه په خبرو کې شامل شي، د متحده ایالاتو نظامي موجودیت د خبرو پر مېز کېښودل شي مګر هسې نه چې په لومړي سر کې یې په اړه اقدام وکړي، او اوربند د بهیر په لومړیو کې وشي. د متحده ایالاتو او افغان ملګرو د ګټو له پلوه به دا تګلاره بې له شکه ښه تګلاره وي. مګر دا داسې انتخاب دی چې که واقعیت وویل شي دم ګړی په لاس کې نه شته. د طالبانو له خوا انکار غیرقابل بحث ثابت شوی. که چېرې یو وخت د دې امکان وو چې په تېرې لسیزې کې د بحث وړ وو (چې معلوم نه دی)، د ولسمشر ټرمپ دغه ډېره زمزمه شوې غوښتنه چې له افغانستان څخه د متحده ایالاتو پوځونه وباسي، په ډېر احتمال د طالبانو د انکار د ټینګښت سبب شوې.

د دې هېڅ شواهد نه شته چې افغان حکومت په خپله د سولې هغسې بهیر پیلولی شي چې غواړي یې. مسلماً، متحده ایالات په تېرې لسیزې کې د دغسې بهیر په مخکې نه دې دریدلي او یقیناً چې له ډېر وخته یې کابل ته ټینګار کړی چې د سولې د بهیر له پاره هغه اړین مقدماتي ګامونه واخلي چې په پایله کې یې یوه منسجمه او پر اجماع ولاړه مرکچي ډله او داسې خط مشی رامینځ ته کړي چې د مهمو طالب-ضد سیاسي ځواکونو ملاتړ له ځان سره ولري. داسې ښکاري چې دغسې مقدماتي ګام لا هم تر-کار-لاندې دی. د طالبانو او د حکومتي چارواکو په ګډون طالب-ضد سیاسي څېرو تر مینځ نیولی شوې غیررسمي اړیکې او خبرې دا څو کاله کیږي چې شته، مګر دغه اړیکې لا په واقعي خبرو اترو بدلیدونکې نه دي ثابتې شوې.

هغه چې د دې له پاره کار کوي چې متحده ایالات باید هغه ډېره مطلوبه تګلاره خپله کړي چې مخکې مو ترې یادونه وکړه، د امریکا د قوت د ټکي په اړه مبالغه کوي او د متحده ایالاتو د هغو ناکامو هڅو واقعي تاریخ له پامه غورځوي چې د دغسې تګلارې د خپلولو له پاره یې کړي. بې له شکه چې د متحده ایالاتو د قوت ټکی لا پر ځای دی، مګر اوس له پخوا څخه غټ نه دی او نه به له هغه وخته مخکې مودې څخه په راتلونکې کې هم غټ شي چې د متحده ایالاتو دیپلوماتانو د طالبانو د هغه ټینګار پر وړاندې نرمښت وښود چې خبرې اترې په دوو برخو په داسې ترتیب ووېشل شي چې لومړی د متحده ایالاتو او طالبانو تر مینځ خبرې وشي او بیا بین الافغاني خبرې.

د متحده ایالاتو د قوت په ټکي کې د متحده ایالاتو د نظامي وتنې سرعت او مشروطیت، د متحده ایالاتو او نورو هغو مرستندویانو له خوا افغانستان سره د مالي مرستې د ادامې امکان چې د متحده ایالاتو په لارښوونه روان دي، او د یوه داسې حکومت د بهرنیو اړیکو د عادي کېدو بالقوه امکان شامل دي چې داسې طالبان یې برخه وي چې طالبان ارزښت ورکوي. طالبانو دا په ډاګه کړې چې بیا د داسې یوه دولت د مشرۍ پر ځای چې د مخکې په څېر شړل شوی او د مرستو له خوارځواکۍ سره مخ وي، دوی غوره ګڼي چې د یوه داسې نړیوال مشروعیت لرونکي حکومت برخه شي چې له بهرنیو مرستو څخه همداسې برخمن پاتې شي- افغانستان یو بېوزله او په وچې کې ایسار هیواد دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې دغسې مرستو ته اړتیا وه.

دا چې تر کومه بریده به طالبان د دغسې مطلوبې پایلې د تر لاسه کولو له پاره جوړجاړی وکړي، تر اوسه معلوم نه دی او تر هغه وخته به هم معلوم نه شي تر څو چې د افغانانو تر مینځ خبرې اترې په جدي توګه پیل شوې نه وي. مګر سره له دې، څه چې ښکاره دي هغه دا دي چې دا ارجحیت او د متحده ایالاتو د نظامي وتنې په اړه د خبرو اترو احتمال دومره قوي انګېزه نه ده چې طالبان دې ته وهڅوي چې د خبرو اترو یوه داسې بهیر ته ننوځي چې افغان حکومت پکې له پیله د خبرو اترو برخه وال وي او اوربند پکې د پیلیزې په توګه شامل وي.

## د متحده ایالاتو او طالبانو د تړون بالقوه خطرونه او ګټې څه دي؟

د هغه تړون د مسودې د محتوئ د هر ډول ارزونې په اړه چې د ټرمپ ادارې له طالبانو سره پرې خبرې کړې باید دا واقعیت له پامه و نه غورځول شي چې متن په عام ډول نه دی شریک شوی او د ټرمپ د ادارې چارواکو یې د محتوئ په اړه لږ څه ویلي. په هغو کمو جزئیاتو کې چې خپاره شوي، دا شامل دي چې په متن کې ویل شوي چې د متحده ایالاتو د نظامي وتنې د لومړي پړاو په توګه به د ۱۳۵ ورځو په ترڅ کې ۵۵۰۰ عسکر وځي. دا چې څه شی به د پوځونو د کمونې د پیل سبب کیږي او دا چې له لومړي پړاو وروسته به څه کیږي، په دې اړه تر اوسه څه نه دي ښکاره شوي. په نورو جزئیاتو کې دا هم شامل دي چې طالبانو د دې ژمنه کړې چې له القاعدې سره به خپلې اړیکې شکوي او هرې داسې ترهګرې ډلې ته به خوندي پټنځای نه ورکوي چې متحده ایالاتو ته ګواښ پېښولی شي، مګر د دغو ژمنو مشخص متن لا نه دی خپور شوی. چارواکو دا هم ویلي چې دغه تړون به

د طالبانو، افغان حکومت او نورو افغاني ځواکمنو اړخونو تر مینځ د "بین الافغاني خبرو اترو" پر لور ګړکۍ پرانیزي، مګر دا چې په دې اړه، که وي به متن کې کوم الفاظ راغلي، مشخص الفاظ یې تر دې دمه لا نه دي خپاره شوي[8].

د هغو خپرو شویو بیانونو ظاهر ته په کتلو چې وایي د متحده ایالاتو او طالبانو تړون به، که نهایي شي، سمدستي د بین الافغاني خبرو اترو سبب شي، او دې ته په کتلو چې د دغسې خبرو اترو له پاره چمتووالی روان ښکارېد، *د دغه تړون اصلي ګټه روښانه ده: او هغه د افغانستان د سولې د بهیر پیلول دی.* د دې درک کول مهم دي چې د متحده ایالاتو او طالبانو تر مینځ تړون به په خپل ذات کې د سولې تړون نه وي. داسې هېڅ کوم تړون نه شته چې یوازې د شخړې د دغو دوو اړخونو تر مینځ وشي او افغانستان ته سوله راوړی شي. بالعکس، د دغسې تړون ارزښت په دې کې دی چې د افغانانو تر مینځ د داسې خبرو اترو د بهیر مقدمه شي چې د بریالیتوب په صورت کې افغانستان ته سوله راوستی شي. لکه مخکې چې رڼا پرې واچول شوه، د دغه بهیر د روانولو بله هېڅ ازمویل شوې وسیله نه ده کامیابه شوې.

د دغې ثمرې د بشپړ تحقق له پاره به دا مهمه وي چې د متحده ایالاتو او طالبانو تر مینځ تړون کې دا روښانه شي چې دغه تړون له دې پورې تړلی او پر دې مشروط دی چې طالبان هم بین الافغاني خبرې پیل او هم په ښه نیت ادامه ورکړي. د سولې خبرو ته د طالبانو له خوا *داګیزه* ژمنه باید لازمي وبلل شي. ان په تړون کې د دغسې قید له موجودیت سره به د دې له پاره پیاوړې امریکایي دیپلوماسۍ او د مالي مرستو ادامې ته اړتیا وي چې طالبان او کابل دواړه د خبرو اترو په موده کې خبرو اترو ته ژمن وساتل شي. که چېرې بیا یوه له دغو غاړو د خپلې ژمنې په تر سره کولو کې پاتې راځي، متحده ایالات به لا هم په داسې موقف کې وي چې کولی شي د پالېسۍ له هغو دوو انتخابونو څخه له هرې یوې کار واخلي چې مخکې مې رڼا پرې واچوله.

د متحده ایالاتو او طالبانو د تړون یوه بله ګټه، که وګنو چې د افغانستان د سولې په بهیر منتج کېږي، دا ده چې ښایي متحده ایالات د داسې نظامي وتنې جوګه کړي چې تر شا شدیده کورنۍ جګړه پرې نه ږدي. دغسې وتنه به په جګړې کې د امریکایانو او افغانانو قربانیو ته تر ټولو غوره درناوی وګڼل شي. سربېره پر دې، د طالبانو له خوا له ترهګرۍ سره د مقابلې ژمنې به تر هغه بریده هدفمندې شي تر کومه چې طالبان د سولې بهیر په پایله کې د افغانستان د مشروع حکومتولۍ د جوړښت برخه ګرځي. په دغسې حالت کې به طالبان بهرنیو مرستندویانو او پانګوالو ته د افغانستان په زړه پورې ساتلو کې ونډه ولري.

د متحده ایالاتو او طالبانو تړون دوه عمده خطرونه لري. لومړی دا چې که په لومړي سر کې طالبان په خبرو اترو کې مهمه بریا تر لاسه کړي، بین الافغاني خبرو اترو ته به له حده زیات زړور ور ننوځي او جګ لَوْ ته به تمایل ولري. په نتیجه کې به جوړجاړي ته دومره زړه ښه نه کړي چې بین الافغاني هوکړو ته د رسېدو له پاره بس وي. دا چې دا خطر به په عمل کې رامینځ ته شي او که رامینځ ته کیږي وسعت به یې ځومره وي، دا به یوازې د بین الافغاني خبرو په ترڅ کې معلومیږي. متحده ایالات به اړ وي چې د دغه خطر د کمولو له پاره پر طالبانو تأثیر لرونکو سیمه ایزو قدرتونو څخه مرسته وغواړي.

دویم خطر یې دلته په واشنګټن کې سیاسي خطر دی. د متحده ایالاتو د وتلو له پاره د تقویم او بهیر تعینول (که تړون ریښتیا دا کار کوي) به هغه تحرک لا ګړندی کړي چې د افغانستان د سولې بهیر له پام کې نیولو پرته د متحده ایالاتو وتل غواړي او په دې سره به کېدی شي د متحده ایالاتو دغه اوسنی د قوت ټکی د بین الافغاني خبرو اړخونه نرمښت او تېرېدنې ته اړ نه کړي. زه هغه بل اضافي خطر ته چې وایي طالبان به د ترهګرۍ د مقابلې په اړه پر هغو ژمنو و نه درېږي چې د تړون د یوې برخې په توګه یې کوي، دومره ارزښت نه ورکوم، ځکه چې، لکه مخکې چې وویل شول، دغه ژمنې باید په هر صورت کې باوري و نه بلل شي مګر دا چې متحده ایالات د سولې د بهیر په رامینځ ته کولو کې دخیل پاتې شي او طالبان د مشروع افغاني حکومت برخه شي.

8 د سي بي ایس له مارګریټ بریننان سره په "Face the Nation" پروګرام کې د بهرنیو چارو وزیر مرکه، September 8, 2019; Peter Baker, Mujib Mashal and Michaelf Crowley, “How Trump’s Plan to Secretly Meet With the Taliban Came together, and Fell Apart,” *New York Times,* September 8, 2019.

## آیا په طالبانو باور کېدی شي؟

یوه پوښتنه چې د متحده ایالاتو او طالبانو تر مینځ خبرو بهیر په ترڅ کې تل په عام ډول کېدله دا ده چې آیا په طالبانو د دې باور کېدی شي چې که کومه ژمنه کوي، پوره به یې کړي؟ دا ناسمه پوښتنه ده. د سولې هغه بهیرونه چې د تودو جګړو د هوارۍ په موخه تر سره کیږي، پر مخکې له مخکې موجود باور نه وي ولاړ، بلکې پر دې ولاړ وي چې د خبرو اترو له لارې د بېلابېلو اړخونو د منافعو تر مینځ کافي تداخل په ګوته یا رامینځ ته شي چې پایله یې د سولې داسې تړون وي چې ټول اړخونه یې د پلي کولو له پاره کافي انګېزه ولري. *که په ساده ټکو کې یې ووایو، د سولې مرکچیان تړون د منافعو پر اساس کوي نه د باور پر اساس.*

دا ټکی هم د بین الافغاني خبرو اترو په اړه صدق کوي او هم د متحده ایالاتو او طالبانو تر مینځ د تړون کولو په اړه. په دواړو حالتونو کې به دا یوازې د خبرو اترو په ترڅ کې معلومیږي چې آیا په کافي توګه متداخلې منافع موجودې دي او که نه. د دې هیله کېدی شي چې باور به د بین الافغاني خبرو اترو په ترڅ کې رامینځ ته شي، او دا چې د باور د یو ډول مقیاس په نه موجودیت کې د افغانستان د شخړې د سیاسي هوارۍ د اغېزناک تطبیق اټکلول ستونزمن کار دی، مګر په هر صورت کې به د تطبیق له پاره د څارنې، تحقیق او بهرني ملاتړ میکانیزمونو ته اړتیا وي.

ځینې دا پوښتنه هم کوي چې ایا پر طالبانو دا باور کېدی شي چې افغانستان به بېرته د اسلامي امارت د هغې ځیرې واکمنۍ ورځو ته نه بیایي چې د ۱۹۹۰مو کلونو له نیمایي څخه په ۲۰۰۱م کې د متحده ایالاتو له خوا رنګېدو پورې یې دوام وکړ؟ په دې اړه مشخصه پوښتنه دا کیږي چې د سولې د تړون له کبله خو به د ښځو او اقلیتونو د حقونو په برخې کې د تېرو ۱۸ کلونو لاس ته راوړنو پر سر جوړجاړی نه کیږي. بیا هم د طالبانو مخکې له مخکې باوریتوب دلته ربط نه لري. بلکې پوښتنه دا ده چې آیا حکومت، نور طالب-ضد ځواکمن اړخونه او طالبان د افغانستان د سیاسي او ټولنیز ژوند د شرایطو په اړه داسې هوکړې ته رسېدی شي چې ټولو ته په کافي ډول د منلو وړ وي؟ ځواب معلوم نه دی چې هو دی که نه، مګر د هو ځواب امکان یوازې د خبرو په ترڅ کې ازمویل کېدی شي.

## څومره احتمال شته چې د افغان سولې بهیر به د پایښتونکې سولې لامل شي؟

د افغانستان د سولې بهیر د کامیابۍ د احتمال د ارزونې د هر ډول اړینې سریزې په توګه باید دا درک شي چې متحده ایالات په دې کې پاتې راغلي چې د ۱۸ کلونو په موده کې طالبان په نظامي ډول مات کړي[9] او یوازې یو کال کیږي چې د سولې هڅو ته یې د متحده ایالاتو د تګلارې په سر کې ځای ورکړی.

څکه نو، د دې له پاره ډېر دلایل شته چې د افغان سولې بهیر ولې کېدي شي ټکنی شي یا قطع نظر له دې چې متحده ایالات یې د بریالیتوب له پاره څومره په ځغرده کار کوي، بالاخره ناکام شي. تر ټولو لومړی دا چې کېدی شي د هوارۍ په اړه د ښکېلو اړخونو د نظرونو تر مینځ توپیر خورا زیات ثابت شي. مګر دا چې دا توپیر به دومره زیات ثابت شي او که نه، دمګړی یې ارزول خورا ستونزمن دي. طالب لوری لا هم اړتیا لري چې د خبرو اترو له پاره د سیاسي دریځ په ترتیبولو یا اظهارولو نور کار هم وکړي. د کابل له اړخه د دې هیله کېدی شي چې داسې دریځ ښکاره کړي چې په هغه کې له اوسني سیستم څخه تر وسه، وسه لږ بدلون شامل وي، مګر ان کابل هم تر اوسه د دریځونو بشپړه چمتو شوې او پر اجماع ولاړه ټولګه نه ده ترتیب کړې.

دوهم، په هر لوري کې داخلي وېش کېدی شي دومره ستونزمن ثابت شي چې برلاسي پرې نه شي تر لاسه کېدی. لکه مخکې چې ترې یادونه وشوه، کابل لا تر اوسه منسجمه مرکچې ډله نه ده جوړه کړې او نه یې د دغسې ډلې د کار د پرمخ وړنې له پاره د پرېکړه-کوونکي جوړښت په اړه اجماع تر لاسه کړې. بل لوري ته څرنګه چې طالبانو لا تر اوسه خپل سیاسي لرلید په تفصیلي

---

9 داسې ښکارېدل چې طالبان په ۲۰۰۲م کې مات شوي وو، مګر په پاکستان کې له خوندي پټنځایونو څخه له بېرته منظم کېدو وروسته د ۲۰۰۵م کال په شا او خوا کې بیا د یوه پاڅون په توګه را پورته شول.

ډول نه دی ترتیب کړی، تر اوسه یې د خبرو اترو د داسې دریځونو د ترتیبولو او داسې بالقوه جوړجاړیو له پلوه خپله وړتیا هم نه ده ازمویلې چې په خپله په تحریک کې د ننه کافي ملاتړ تر لاسه کړی شي.

د دغو او نورو دلایلو له کبله به د افغان سولې بهیر وخت ونیسي، ښایي له هغه ډېر وخت چې امریکایي صبر یې اجازه ورکوي. د ناکامۍ درېیم دلیل دا کېدی شي چې متحده ایالات د خپل قوت ټکی په کافي ډول تر هغه وخته (که د بهیر تر پایه نه وي د بهیر تر ډېره بریده پورې) حفظ نه کړي چې له برکته یې دغه بهیر وځارلی شي.

د متحده ایالاتو د قوت د ټکي د کاروني تر څنګ د سولې یو بریالی بهیر د یوه داسې لوري له خوا د بې پرې تسهیل په عدم موجودیت کې چې د دغې شخړې لوری نه وي له تصوره پورته خبره ده. مېز ته د ټولو افغان لوریو د راوستلو له ستونزمنتیا ښکارې چې که دوی د خبرو مېز ته راشي هم، دوی به و نه شي کولی چې له تسهیل پرته هوکړو ته ورسیږي. د تسهیلوونکي نقش به دا وي چې کله مستقیمې خبرې بې ګټې شي، د خبرو لوریو ته به د بالواسطه خبرو لارښوونه کوي او وړاندیز شوي جوړجاړي به مطرح کوي. متحده ایالات د شخړې د یوه عمده متخاصم لوري په توګه چې خپلې ګټې یې پکې دخیلې دي او د افغان لوریو څخه د یوه د فعال ملاتړي په توګه د دغه نقش د لوبولو له پاره نامناسب دي.

دا چې د افغان سولې بهیر په افغانستان کې د یوې پایېدونکې سولې د مېنځ ته راوړلو له پلوه د بریالیتوب احتمال لري او که نه، له دې پوښتنې سره توپیر لري چې آیا دغه بهیر د سولې تړون د رامېنځ ته کولو احتمال لري او که نه. لومړی هدف ستر او تر نورو ستونزمن دی. ځکه نو اکثراً د سولې د خبرو اترو او د سولې رامېنځ ته کولو تر منځ توپیر کیږي. د سولې رامېنځ ته کول اوږدمهالی او پېچلی بهیر دی. که د افغان سولې بهیر په هر څومره هراړخیزه توګه هم د شخړې لامل خوابدیو او واک-غوښتنو ته ځواب ووایي، دا به یوازې قسمي حل لاره وي. له څلور لسیزو شخړې وروسته چې له ۲۰۰۱م کال وروسته شخړه یې اوسنی پړاو دی، داسې یو هوارې چې د شخړې د اوسنیو خواوو پر منافعو متمرکز وي، اړین دی، مګر ښایي کافي نه وي. سربېره پر دې، د سولې هر ډول تړون د شخړې د هوارې محدوده وسیله ده؛ مګر داسې یو تړون او د جوړجاړي او اجماع-جوړونې بهیر چې دغه تړون زېږوي، د سولې بنسټ اېښودلی شي. بالآخره، د تړون ساتلو او د تطبیق پر سر یې د حتمي الوقوع اختلافونو هوارې ته د دغو اړخونو هوډ به دا وښیي چې دغه بنسټ ټینګیږي او که نړیږي، او په دې توګه د اوږدمهالې سولې جوړونې له پاره دغه فُرصت پاییږي او که نه.

## ایا متحده ایالات کولی شي، او ایا ور ته په کار دي، چې له طالبانو سره بېرته خبرې پیل کړي؟

څرنګه چې د سولې خبرې اترې د متحده ایالاتو له پاره د پورتنیو درېوو شته انتخابونو له ډلې تر ټولو غوره انتخاب دی او څرنګه چې، لکه مخکې چې رڼا پرې واچولی شوه، د متحده ایالاتو او طالبانو تړون د دغسې خبرو اترو پر لور اړین ګام دی، ځکه نو باید د تړون کولو دغه بهیر بېرته ژوندی شي. د ولسمشر ټرمپ دغې ناکامۍ هڅې چې د کیمپ ډېوېډ ناسته د تړون د کولو له پاره وکاروي او شاید د دې هڅه وکړي چې هغه شرایط نور هم ښه کړي چې د ده مرکچیانو پرې مخکې له مخکې کار کړی وو، دغه بهیر غوځ کړ، مګر شاید وژلی یې نه وي. طالبانو رضایت ښودلی چې دوی بهیر له هغه ځایه بېرته پیل کړي په کوم ځای کې چې پرېښودل شوی وو او د لاسلیک په درشل کې وو[10].

له یو کال وړاندې ګمارل کېدنې راهیسې د متحده ایالاتو د لوړپوړي مرکچي زلمي خلیلزاد یوه لاس ته راوړنه دا وه چې د خبرو اترو له لارې د دغې شخړې هوارې ته د متحده ایالاتو ژمنتیا ته باور ور وباخښه. د خبرو اترو د پیلوني له پاره د متحده ایالاتو د زیاتېدونکو او کمېدونکو هڅو په څو کلونو کې دغې ژمنې ته نه یوازې د شخړې د لوریو له خوا، بلکې تر دې مهم د سیمه ایزو قدرتونو له خوا د شک په سترګه کتل کېدل. د تېر کال په ترڅ کې داسې ښکارېدل چې پاکسان، چین او په ځانګړې توګه روسیه ټول که په پوره لېوالتیا نه وو لږ تر لږه په کافي توګه له طالبانو سره د متحده ایالاتو د تړون کولو ملاتړي وو. طبعاً، دا مرسته له

10 په مسکو کې له طالب مرکچیانو سره شوې مرکه وګورئ
, September 13, 2019, available at https://www.rt.com/news/468745-taliban-war-hundred-years/.

دې کبله وه چې د متحده ایالاتو په وتلو، مګر نه په ډېرو چټکو وتلو، کې دوی خپلې ګټې ګوري (یو بل سیمه ایز کلیدي فعال، ایران، هم په همدې کې خپله ګټه ویني). سره له دې، د افغان سولې تړون کولو او بالاخره پلي کولو کې به د دوی ملاتړ اړین وي.

د خبرو اترو اوسنۍ پړې کېدنې بې له شکه د متحده ایالاتو بریالیتوب ته زیان اړولی. مګر دغه زیان رغېدی شي که چېرې دغه بهیر ژر تر ژره او د دغه جوش له ختمېدو مخکې بېرته پیل شي، او که متحده ایالات د تړون په اړه د هیلو د سقف د لوړولو د هڅې له لارې له خپله حده وا نه وړي. د دې اړتیا به هم وي چې سیمه ایزو لوبغاړو ته په دې اړه ډاډ ورکولو له پاره ډله ایزې دیپلوماتیکې هڅې وشي چې متحده ایالات خبرو اترو ته ژمنتیا لري. که چېرې د دې پر ځای متحده ایالات د نامعلومې مودې پوځي شتون په ګټه خبرې اترې پرېږدي، باید له دغسې دایمي-ډوله امریکایي نظامي موجودیت سره د سیمه ایزو ځواکونو مخالفت ته چې له طالبانو سره د ملاتړ زیاتونې په بڼه به څرګندیږي، ځان چمتو کړي.

* * *

د دې کمېټې هېڅ یو غړی او بل هر څوک چې غواړي متحده ایالات په افغانستان کې یوه اغېزناکه تګلاره پر مخ بوځي، د هغو انتخابونو له کبله خوښېدی نه شي چې د پالیسۍ جوړوونکو پر وړاندې شته. نوره له دې خبره وتلې چې د متحده ایالاتو پالیسۍ جوړوونکو په باوري توګه د دې ادعا کولی شوه چې په افغانستان کې د مطلوبو پایلو تر لاسه کولو پر لارې سم روان دي. مګر سره له دې هم یوه کوچنۍ کړکۍ شته چې متحده ایالات کولی شي د هغې له لارې خپلې تر ټولو اوږدې جګړې ته په داسې توګه د پای ټکی کېږدي چې په تعقیب یې شدیده کورنۍ جګړه تر شا پرې نه ږدي. ایله یو کال کیږي چې متحده ایالاتو د خبرو اترو له لارې د هوارې لټې ته لومړیتوب ورکړی او داسې ښکاري چې له طالبانو سره داسې تړون کولو ته نږدې شوي چې د متحده ایالاتو د ځواکونو اېستنې ته لاره هواره کړي. [امریکا] باید دا هڅې اوس پرې نه ږدي. له طالبانو سره دغسې تړون به ځینو ته دلته په واشنګټن کې او ښايي ډېرو ته هلته په افغانستان کې خوند ور نه کړي. مګر دا تړون له ځان سره یوه ډالۍ لري: او هغه د سولې د داسې بهیر د پیلولو چانس دی چې ښايي د افغانستان دغه لا اوږده جګړه پای ته ورسوي.